# د چیکین پاکس په وړاندې ځان وساتئ

# د ویروسیلا (چیکن پاکس) واکسین



**دا واکسین مو د کومو ناروغیو پر وړاندې ساتنه کوي؟** دا واکسین مو د ویروسیلا (چیکن پاکس) په وړاندې ساتنه کوي او په شینګل د اخته کیدو خطر کموي. ویروسیلا (chickenpox) یو وایروس دی چې کولی شي تبه او خارښت لرونکي تناکی رامنځته کړي چې په اسانۍ سره د ټوخي، پرنجی، په واسطه د هوا له لارې یا د خلاصو داغونو په لمس کولو سره خپریږي. په ویروسیلا د اخته کیدو وروسته ویروس ستاسو په بدن کې پاتې کیږي او کولی شي فعال شي، د پوستکي درد (د پوستکي درد) سبب ګرځي.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:**

- هغه ماشومان چې عمرونه یې د ۱۲ میاشتي یا تر هغه ډیر دي او د شری، ممپس، روبیلا او ویروسیلا (MMR-Var) لپاره ګډ واکسین نه ترلاسه کوي.
- د ۶-۱۱ میاشتو ماشومان چې د کوم عضوي انتقال لپاره کاندید دي
- هغه ماشومان چې د ۲۰۱۲ کال د اګست په لومړی نیټه یا وروسته زیږیدلي دي، او د ویروسیلا واکسین یې نه دی اخیستی (حتی که دوی ویروسیلا ولري).



**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض یا بدي اغیزي ولرئ. د معافیت سیستم یی کمزوری وي. په تیرو ۱۱ میاشتو کې د وینې محصولات ترلاسه کړي وی، په تیرو ۳ میاشتو کې یی بل ژوندی واکسین اخیستی وي، یا امیندواره وي. په هرصورت، په البرټا کې ډیری خلک د دې واکسین لپاره وړ او اجازه لري.



**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** بدي اغیزی یی خورا عادي او لنډمهاله دي ، ممکن د واکسین څخه 6 اونۍ وروسته څرګندي شي. پدې کې کیدای شي د لکه د ستنی یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، ستړیا ، سر درد ، تبه د ویروسیلا په څیر داغونه (وړی تناکي چی سرونه یی د اوبو څخه ډک وي). که تاسو پر بدن د ویروسیلا په څیر یوه تناکه رامینځته شوی وي، پوښ یې وساتئ، که دا ممکنه نه وي نو د امیندوارو میرمنو، نوي زیږیدلو ماشومانو، او د کمزوري معافیت لرونکو اشخاصو سره د اړیکي څخه ډډه وکړئ. که تاسو له ۵۰ څخه ډیر داغونه لرئ، روغتیایی لینک ته په ۸۱۱ زنګ ووهئ او جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د پیچکاري یا ستني ځای کي د یخ لوند ټوکر څخه کار اخیستلی شو، او د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل اخیستلی شو.

---

**که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.


AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19

Financial contribution:
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE